احمدشاه انګار

۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# د پاکستان د جوړښت اصلي لامل

# او د امریکا سره یي اوسنی اړیکي

## تاریخي شالید:

تاریخي شواهید ښیي چې د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته د پاکستان جوړښت د انګلستان لخوا په دې سیمه کې د ستراتیژیکو موخو لپاره وو. یعني افغانستان او چین شوروي پلوه هیوادونه وه او په هند کې هم موجود پیاوړی ګوند کانګرس هم شوروي پلوه تمایل لاره. نو د شوروي د محار لپاره د هالفورډ میکندر د هارټ لنډ او نیوکلاس سپایکمن د ریملنډ د تیوریانو پر بنسټ، د غرب د ستراتیژیکو موخو د ساتلو لپاره ، په دې سیمه کې د یو نوي انګلیس پلوه هیواد جوړېدل اړین وه.

خو دوهمي نړیوالي جګړې د لویي برطانیی اقتصادي او پوځي ځواک کمزوری کړی وو، چې له امله پاکستان یوازي پرېښودل سو، ان دا چې انګلیستان په هند سمندر کې خپله سمندري پوځي اډه د دیګو ګراسیا هم امریکا ته وسپارل. پاکستان د څو متخاصمو قدرتونو په منځ کې ګیر پاته سوه، څکه چین او افغانستان دواړه شوروي پلوه هیوادونه وه او د هند په ستراتیژی کې پاکستان اوس هم د لوي هندوستان قلمرو دی. پاکستان په ویره کې وو چې امکان سته چې هند یي بیرته لاندي کړي او ور سره سم افغانستان هم د پاکستان خپلواکی خلاف رایه په ملګرو ملتونو کي ور کړې وه او ډیورنډ لاین په رسمیت نه پیژني معنی د پاکستان پر زیاته مځکه باندي ادعا لري.

دا چې په پر نړیوال نظام باندي عموماً لوبه د ریالیزم یا پاور پولټیکس پر اساس تعریف کیږي، او د ساړه جنګ په جریان کي هم نړیوالي بازیاني د همدې تیوری د Relative gains پر بنسټ تعریف کیدلې. او د دې تیوري پر بنسټ کوچني قدرتونه د ځان د بقا په خاطر اړ دي چې د ځان لپاره امنیتي چتر یا security umbrella باید ولري ، نو پاکستان هم دې ته اړتیا لرل چې باید یو امنیتي چتر پیدا کړي، په لومړي سر کې یي کوښښ وکړ چې دشوروي اتحاد څخه ګټه پورته کړي ، خو بریالی نه سو. نو امریکا متحده ایالاتو ته یي لاس اوږد کړ، امریکا هم په دې سیمه کي دخپلو ستراتیژیکو ګټو د ساتلو لپاره همداسي ځای ته اړتیا لرل. څکه د جورج کنان د محار د تیوری پر بنسټ د شورور سره مبارزه باید د مخامخ جګړې د لاري نه بلکې د محار کولو له لاري شوروي مات سي، نو امریکا هم پاکستان سره د سیتو او سنتو په نامه تړونونه لاسلیک کړل. څکه د نیکولاس سپایکمن د ریملنډ د تیوری پر بنسټ چې تر اوسه لا د اسیا لپاره د امریکا د ستراتیژی یوه برخه جوړوي. د شوروي د محار لپاره باید د شوروي شاوخوا امریکا پلوه هیواځادونه و اوسي، چې همداسي هم وه خو یوازي دغه ځاي چې پاکستان او افغانستان خالي وو، او امریکا ویره لرل چې د همدې لاري به شوروي اتحاد ، د تزاري روسیي د زړې ستري لوبي old great game ستراتیژي تعقیب کړي او ګرمو اوبو ته به لار پیدا کړي. نو څکه باید دغه لار پر وتړل سي.

په ۱۹۶۲ کال کي د چین او هند تر منځ سرحدي شخړي پاکستان ‌دا چانس هم په لاس ورکړی چي هند څخه د ځان ساتنی لپاره باید یوازي پر امریکا تکیه و نه سي، په ځانګړي ډول دغه مفکوره ذولفقار علي بوټو لرل ، چې باید چین هم خپل ستراتیژیک ملګري او د چین د امنیتي چتر څخه هم باید ګټه پورته سي. لکه څنګه چي د تهاجمی ریالیزم د تیوري یو تیورسن امریکایي پروفیسور جان میر شایمر وایي، چې د ساړه جنګ په جریان کي د شوروي د کمزوري کولو لپاره او د محار د کړی د پوره کولو لپاره د چین ملګرتیا د امریکا لپاره ډیره اړینه وه، او د تیلو شاهانو په کتاب کي لیکل سوي چې پاکستان په ۱۹۷۰ کلونو کي د امریکا او چین په نژدې کېدو کي رغنده رول و لوباوه.

پاکستان او چین دواړو هیوادونو په افغانستان کي د شوروي خلاف جګړه کي د امریکا په ګټه کار وکړ، چې د دې جګړې څخه پاکستان ډیره ګټه هم پورته کړل ، ان دا چې پاکستان د چین او امریکا په مرسته د اتومي طاقت خاوند سو. خو دا چې په سیاست کي دایمي دوست او دایمي دوښمن نسته او یوازي دایمي ګټي دي، نو څکه د پاکستان او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

امریکا دوستي تر ابده نسي کیدای. څکه اوس مهال د پاکستان لپاره د چین او امریکا یعني دواړه رقیب هیوادونه دوست ساتل سخت بریښي.

## اوسنی حالت:

د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د سپتمبر ۱۱مي له پېښو وروسته د چین په ګډون ټولې نړۍ د امریکا له ترهګرۍ سره د جګړې یا war on terror ملاتړ وکړ، پاکستان هم امریکا ته له خپلې خاورې د افغانستان پرضد د استفادې اجازه ورکړه، خو دغې همکارۍ ایله تر ۲۰۱۴ کاله دوام وکړ.
دا خبره ډېره ساده معلومېږي چې د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ وایي، امریکا پاکستان غولولې او دوه مخې لوبه یې ور سره کړې؛ څکه د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي په وار وار ویلي چې موږ امریکا ته له پاکستانه د اورپکو د راتګ په اړه ویلي وو، خو امریکا به ویل پاکستان زموږ ستراتیژیک ملګری دی او موږ نه غواړو له پاکستان سره اړیکي خرابې کړو.

## "مصنوعي جهاد"

د هغه ترڅنګ دا خبره څکه ساده معلومېږي، چې د سړې جګړې په اوږدو کې ډېری دغه مدرسې چې اوسمهال د افغانستان لپاره پاکستان کې جنګیالي روزي، د امریکا په مرسته له پخواني شوروي سره د جګړې لپاره جوړې شوې، چې همدا خبره څه موده مخکې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر هم د امریکا د ولسمشر د خبرو په ځواب کې وکړه چې د شوروي خلاف جګړه د امریکا له خوا پیل شوی "مصنوعي جهاد" و، دا نو څنګه امکان لري چې امریکا دې په دې نه وي خبره چې پاکستان د طالبانو، القاعدې او حقاني شبکې ملاتړ لري.
په داسې حال کې چې د القاعدې پخوانس مشر او بنسټګر او د وسله والو طالبانو دواړه پخواني مشران ملا محمد عمر او ملا اختر محمد منصور دواړه د پاکستان په خاوره کې وو، همدارنګه د "ناسم دوښمن" یاWrong Enemy کتاب کې هم یادونه شوې چې پاکستان د افغان دولت د مخالفو وسلوالو لاسنیوی کوي.
ما په فکر اصلي خبره له ترهګرۍ سره د جګړې مسله نه دهو بلکې اصلي خبره پاکستان کې د چین د نفوذ ډېروالی دی، چې په ستراتیژیک ډول د امریکا د ګټو لپاره ستراتیژیک خطر دی، همدا خبره له هند او امریکا سره د نژدې والي لامل هم شوې.
لکه څنګه چې پروفیسور جان میر شایمر وایي، چین به هېڅکله په سوله بیز ډول مخته ولاړ نه شي. د ښاغلي میر شایمر په اند، د امریکا پر وړاندې اوسنی ستراتیژیک خطر چین دی؛ څکه چین ورځ تر بلې په یو سیمه بیز هجمون یا برلاسي قدرت بدلېږي او لکه د امریکا لپاره چې د مونرو دوکتورین پربنسټ، هېڅ بهرنی قدرت باید د امریکا په سیمه Hemisphere Wester کې نه وي، همدا ډول پالیسي چین هم لري، هر کله چې چین په سیمه بیز هجمون بدل کړي، نو بیا امریکا ته په دې سیمه کې د پاتېدو اجازه نه ورکوي.
امریکا خپلې ستراتیژیکې ګټې د متخاصمانه یا له coercive لارې تعقیبوي، خو چین بیا له سوله بیزې لارې تعقیبوي، چې همدا ډول پالیسي جاپان په ځینو سیمو کې د دویمي نړیوالې جګړې مخکې تعقیبولې او امریکا په دې پالیسي پوهېږي چې د پاکستان او چین ترمنځ اقتصادي دهلیز د چین لخوا د همدې پالیسي برخه ده، چې چین غواړي دغه هیوادونه خپل کنټرول لاندې راولي او بیا له همدې لارې د امریکا د مهار ستراتیژي ناکامه کړي.

## ستره لوبه:

چین په افغانستان د امریکا پوځي حضور د خپل ځان لپاره ستراتیژیک خطر بولي او له ترهګرۍ سره جګړه د خپل هیواد د محاصره کولو یوه پلمه ګڼي؛ نوځکه د امریکا پر وړاندې د پاکستان ملاتړ کوي. لکه څنګه چې اوس معلومه ده روسیه هم د امریکا خلاف ده او داسې اوازې دي چې د امریکا خلاف د طالبانو ملاتړ کوي؛ نو څکه د نړیوالو اړیکو ځینې پوهان په افغانستان کې روان حالت نوی "ګریټ ګیم" (ستره لوبه) بولي.
که پاکستان د چین په خوله په خپل هیواد کې افغانستان ته د امریکا د اکمالاتو لار وتړي، نو د امریکا ګټې په اسانی سره په خطر کې اچوي؛ څکه د افغانستان شاوخوا ټول هیوادونه د امریکا خلاف دي. چین اوسمهال د پاکستان په مرسته د امریکا پر وړاندې د ستړې کېدونکې یا Exhausted Tactic ستراتیژي تعقیبوي، چې امریکا د افغانستان په جګړه کې ښه ستړې کړي او بیا مجبوره شي دا سیمه پرېږدي.
دا پوښتنه پیدا کېږي چې: څنګه د پاکستان خلاف د امریکا ستراتیژي یو دم دومره شدیده شوه؟
لکه څنګه چې په امریکا کې عموماً دوه مخور ګوندونه له ډېره وخته حکومت کوي، په دې سره د دیموکرات ګوند زیات وخت خپله بهرني ستراتیژۍ د "ویلسنیزم تیوري" چې د امریکا د پخواني ولسمشر وډرو ویلسن نظریات دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تعقیبوي، چې د هغه پربنسټ په نړیوالو مسایلو کې کوښښ کېږي د متخاصمانه تګلارو پرځای، له ډیپلوماسۍ کار واخلي. که مو یاد وي د پخواني ولسمشر بارک اوباما په حکومت کې له پاکستان سره د یادو ستونزو د حل لپاره ډېر پر ډیپلوماټیکو تګلارو کار کېده، ان دا چې پاکستان ته د ایف ۱۶ جنګي الوتکو ورکول یې هم لغوه کړل.
خو د لیبرال ګوند اکثره وخت خپله بهرني پالیسي د "جکسنیزم" چې د جکسن له نظریاتو سرچینه اخلي، تعقیبوي، چې د هغه پربنسټ دوی له متخاصمانه تګلارې coercive diplomacy کار اخلي. نو ځکه ویلای شو چې د ټرمپ دریځ د پاکستان پر وړاندې د همدې تیوري سرچینه اخلي، که د ټرمپ پرځای بل هر جمهوریپال ولسمشر وای، همدا ډول ګام به یې پورته کړی و، خو ټرمپ په دې برخه کې نسبتاً نورو ته ډېر جدي ګامونه اخلي، چې دا کار د جمهوریپال ګوند ډېری ولسمشرانو کړی، لکه بوش چې د عراق خلاف له همدې لارې کار واخیست.
لکه څنګه چې پروفیسور میرشایمر وایي، په ستراتیژیکه توګه د امریکا لپاره د چین شاوخوا هېوادونه نسبتاً اروپا ته اوسمهال ډېر اهمیت لري او اروپا دویمه کټګوري کې راځي. نو د چین خلاف باید شاوخوا هېوادونه پیاوړي او محاصره تنګه کړل شي، چې په دې لړ کې د هند رول ډېر مهم دی، ځکه هند چین خپل ستراتیژیک خطر بولي او په دې اړه له امریکا سره هر ډول مرستې ته تیار دی او امریکا هم په افغانستان کې هند ته د ډېر رول ورکولو په تکل کې ده.

د Grand Strategy for India 2020 and Beyond کتاب کې راغلي، د هند لپاره افغانستان له امنیتي اړخه مهم دی او علت یې هم پاکستان دی چې پاکستان د ستراتیژیک ډېپټ Strategic Depth پالیسي له لارې غواړي افغانستان یو client state وګرځوي چې بیا یې په اسانۍ سره د هند خلاف وکاروي، لکه د طالبانو په رژیم کې چې بنه بېلګه یې د هند مسافر وړونکي الوتکې د تښتونې پېښه وه، چې بیا یې څو پاکستاني ترهګر پرې راخوشې کړل او هند کوښښ کوي پاکستان په افغانستان کې دومره بوخت وساتي چې هېڅکله یې هند ته فکر هم نه شي او افغانستان کې د پاکستان خلاف رژیم و اوسي بیا له همدې لارې پاکستان هم محاصره کړي.

## معکوس پښتونستان؟

پاکستان هم د امریکا او هند دغه نژدېوالی د خپل هېواد پر وړاندې ستراتیژیک خطر بولي، لکه څنګه چې دا خبره د پاکستان پخواني ولسمشر جنرال پرویز مشرف بي بي سي سره په یوه مرکه کې کړې وه، په ننګرهار او کندهار کې د هند کونسلګرۍ د پاکستان د بې ثباته کولو لپاره دي او افغانستان د پاکستان خلاف هند ته په خپله خاوره کې ډېر رول ورکړی.
لکه څنګه د کرزي د حکومت د ملي امنیت شورا سلاکار رنګین دادفر سپنتا بي بي سي سره د خپل نوی کتاب په اړه خبرو کې ویلي، پاکستان په افغانستان کې د "معکوس پښتونستان" د مسالې ملاتړ کوي یعنې غواړي د پاکستان پولې ته نژدې د افغانستان ټول ولایتونه باید د طالبانو په کنټرول کې وي، چې له دې لارې د پاکستان خلاف د هند د پلانونو مخه ډب کړي.
امریکا غواړي پاکستان هم د چین خلاف د امریکا د ستراتیژۍ ملاتړ وکړي او په دې برخه کې هند ځکه د امریکا ملاتړ کوي چې هغه چین خپل ستراتیژیک خطر بولي، خو د امریکا او هند دغه دوستۍ پاکستان نور هم چین ته نژدې کړی او په دې برخه کې له امریکا سره مخالف دی، همدا ددې لامل شوی چې د امریکا او هند خلاف د چین، روسیې، پاکستان او ایران ترمنځ اتحاد جوړ شي.
دا ټول هېوادونه له ترهګرۍ سره د جګړې په نامه افغانستان کې د امریکا حضور د ځانونو لپاره خطر ګڼي او د امریکا جګړه تر پوښتنې لاندې راولي، په ځانګړې ډول د "اسلامي دولت" (داعش) نومې ډلې پیدا کېدل، دوی ادعا لري امریکا ترهګري د دوی خلاف د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره د وسیلې په توګه کاروي.
دوی پوهېږي چې امریکا غواړي د منځنۍ اسیا هېوادو هایدرو کاربوني زېرمو ته لاسرسی پیدا کړي او په دې توګه د روسیې او چین نفوذ په دې هېوادونو باندې کم کړي.
چین هم د نفتو په برخه کې امریکا ته محتاج دی، ځکه اکثره نفت له منځنۍ ختیځ او ایرانه راوړي او د امریکا او چین ترمنځ په شخړه کې امریکا په اسانۍ دغه لار پر چین تړلای شي، نو چین اړ دی، په دې برخه کې ځانته بدیل پیدا کړي چې یوازینی بدیل یې د منځنۍ اسیا نفتي زېرمې دي.
د امریکا لپاره څه کول پکار دي چې د چین او پاکستان د دغه پلان مخه ډب کړي. زما په فکر که پاکستان همداسې یو قوي دولت پاتې شي او همدا پالیسي د امریکا د ګټو خلاف تعقیب کړي، دا به امریکا ته ستره ستراتیژیکه ماتې ورکړي، نو امریکا یوازې یوه لار لري، هغه دا چې پاکستان باید تجزیه کړي او په داخل کې د پاکستان خلاف پاڅونونو ملا وتړي لکه اوس چې یې ایران کې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د امریکا لخوا د پاکستان پر وړاندې اوسني ګامونه لکه د نظامي مرستو ځنډول یا مالي مرستي بندول، زما په نظر چاني وهل دي چې اصلي موخه یې د چین او پاکستان نژدېوالی دی، نه پاکستان لخوا د اورپکو ملاتړ یا په افغانستان کې د رواني جګړې پای ته رسول.

## د لیکوال پېژندنه:

احمدشاه انګار سیاست پوه او د سولي او شخړو مطالعاتو متخصص دی، نوموړی ۱۵ کاله کیري چې په ملي او نړیوالو رسنیو کې کاري تجربه لري. ښاغلي انګار حقوق او سیاسي علمو کې لیسانس او هندوستان هیواد کې د سولي او شخړو مطالعاتو کې د ماسټرۍ تر کچي زده کړي کړي. او لسګونه علمي مقالي یې د سولي ، شخړو او ستراتژیکو مسایلو په اړه په نړیوالو او ملي رسنیو کې خپرې سوي دي. نوموړي د افغانستان د اساسي قانون د څېړني او تشریح تر عنوان لاندي کتاب هم لیکلي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ